DTM
AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

د پایلې لنډیز . نهم پړاو
اکتوبر – ډسمبر ۲۰۱۹



د ۲۰۱۶ کال راهیسې طبیعي پېښو د ۱،۴۶۸،۱۲۷ افغانانو ژوند، کورونه او معیشت له منځه وړي او هغوی یې دې ته اړ کړي چې خپل کورونه پرېږدي او د هېواد دننه نورو ځایونو ته بېځایه شي، لکه دا کورنۍ په کندهار ولایت کې چې په همدې وروستیو کې یې کور، د کور سامان او څاروي د سیلاب له امله له منځه تللي. © IOM ۲۰۱۹

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم په افغانستان کې د تحرک د ارزونې بنسټیزې وسیلې کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه وشي او د نفوس په هکله اټکلونه، د بېځایه شویو موقعیتونه او جغرافیه وي وېش څرګند شي. سربېره پر دې DTM د بېځایه کېدو مهال، علت، اصلی سیمې، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه کوي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي
هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هېواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان
هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

کورني بېځایه شوي په لاندې دریو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. کورني بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې
د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د کورني بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي کورني بېځایه شوي کسان
د نورو سیمو څخه کورني بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان
هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د کورني بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۳۴** ولایتونه وارزول شول

**۳۹۲** ولسوالۍ وارزول شوې (۷ ولسوالۍ د لاسرسۍ وړ نه وې او ۲ ولسوالیو کې کورني بېځایه شویو او راستنېدونکو شتون نه درلوده)

**۱۱،۶۷۱** کلي وارزول شول

**۶۲،۲۱۴**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۳،۴۵۱،۵۱۰**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۴،۳۵۰،۹۰۰**
کورني بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۴،۷۵۳،۷۱۷**
پخواني کورني بېځایه شوي اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۲،۵۳۱،۰۱۱**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۳۳۲،۲۵۳**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له جملې ۱۳٪)

**۴۶۰،۷۳۳**
راستنیدونکي او کورني بېځایه شوي (۶٪) په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۳ څخه ۱**
کس په هرات، جوزجان، کنړ او ننګرهار کې او له ۴۰٪ څخه زیات کسان په بادغیس، نیمروز او زابل کې یا کورني بېځایه شوي او یا هم راستنېدونکي دي

**۵ څخه ۲**
کسان د فراه، جوزجان، ارزګان، وردک او زابل ولایتونو څخه د کورني بېځایه شویو په توګه له خپلو اصلي سیمو څخه تللي

**۳ څخه ۱**
کس په جوزجان او تخار کې او ۴۰٪ څخه زیات په بغلان هلمند، کندز او زابل کې پخواني کورنۍ بېځایه شوي ول چې اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي

**۳ څخه ۲**
۶۶٪ کورني بېځایه شوي یوازې په ۸ ولایاتو کې اوسېږي: بادغیس، بلخ، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار او ننګرهار

**۲ څخه ۱**
۵۲٪ راستنیدونکي په ۸ ولایتونو کې ژوند کوي: بغلان، بلخ، فاریاب، هرات، جوزجان، کابل، کندز او ننګرهار

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعيتونو کې بېځايه شوي کسان | د ولاياتو په کچه لنډه کتنه

| ولايت | د ورستي ارزونې نېټه | مجموعي نفوس* | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي+کورني بېځايه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | کورني بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې | د نفوس سلنه | راسپدلي کورني بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي کورني بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اورزګان | ۲۰۱۸/۱۲/۳۱ | ۴۲۰,۹۶۴ | ۸۲,۲۱۵ | ٪۱۶ | ۸۹۹ | ٪۰ | ۱۶۷,۰۸۵ | ٪۴۰ | ۸۱,۳۱۶ | ٪۱۶ | ۱۱۳,۷۳۶ | ٪۲۷ | ۲,۹۵۲ | ٪۱ |
| بادغيس | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۵۳۰,۵۷۴ | ۳۸۸,۲۱۳ | ٪۴۲ | ۹۸,۳۲۶ | ٪۱۱ | ۱۸۶,۶۵۶ | ٪۳۵ | ۲۸۹,۸۸۷ | ٪۳۲ | ۵۴,۴۰۶ | ٪۱۰ | ۱۱۴,۱۶۳ | ٪۲۲ |
| باميان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۴۷۸,۴۲۴ | ۷۷,۵۸۵ | ٪۱۴ | ۳۸,۵۴۴ | ٪۷ | ۸۵,۲۳۹ | ٪۱۸ | ۳۹,۰۴۱ | ٪۷ | ۴۸,۹۷۹ | ٪۱۰ | ۳۶,۵۵۰ | ٪۸ |
| بدخشان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۱,۰۱۷,۴۹۹ | ۱۰۱,۰۸۴ | ٪۹ | ۵۶,۵۴۴ | ٪۵ | ۹۵,۴۲۰ | ٪۹ | ۴۴,۵۴۰ | ٪۴ | ۱۴۰,۳۸۵ | ٪۱۴ | ۶۵,۳۱۴ | ٪۶ |
| بغلان | ۲۰۱۹/۱۲/۳۱ | ۹۷۷,۲۹۷ | ۱۹۰,۵۷۷ | ٪۱۶ | ۱۴۴,۷۷۱ | ٪۱۲ | ۱۵۸,۰۰۵ | ٪۱۶ | ۴۵,۸۰۶ | ٪۴ | ۳۹۷,۴۱۷ | ٪۴۱ | ۱۲۴,۲۴۳ | ٪۱۳ |
| بلخ | ۲۰۱۹/۱۲/۳۱ | ۱,۴۴۲,۸۴۷ | ۴۲۴,۶۱۳ | ٪۲۳ | ۱۵۶,۶۳۴ | ٪۸ | ۱۵۴,۹۸۵ | ٪۱۱ | ۲۶۷,۹۷۹ | ٪۱۴ | ۳۵,۵۸۸ | ٪۲ | ۱۷۵,۰۹۷ | ٪۱۲ |
| پروان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۷۱۱,۶۲۱ | ۷۷,۶۷۱ | ٪۱۰ | ۶۰,۴۶۴ | ٪۸ | ۹۲,۶۹۶ | ٪۱۳ | ۱۷,۲۰۷ | ٪۲ | ۵۳,۵۵۰ | ٪۸ | ۵۸,۳۳۶ | ٪۸ |
| پکتيا | ۲۰۱۷/۱۲/۳۱ | ۵۹۰,۶۶۸ | ۹۲,۷۰۸ | ٪۱۴ | ۶۹,۵۶۵ | ٪۱۰ | ۴۲,۷۶۸ | ٪۷ | ۲۳,۱۴۳ | ٪۳ | ۴۳,۱۸۵ | ٪۷ | ۲۸,۲۹۳ | ٪۵ |
| پکتيکا | ۲۰۱۸/۱۲/۳۱ | ۷۴۸,۹۱۰ | ۸۳,۵۳۸ | ٪۱۰ | ۴۳,۵۸۸ | ٪۵ | ۳۲,۱۲۵ | ٪۴ | ۳۹,۹۵۰ | ٪۵ | ۱۷,۱۵۸ | ٪۲ | ۳۴,۸۴۴ | ٪۵ |
| پنجشېر | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۱۶۴,۱۱۵ | ۴,۸۲۶ | ٪۳ | ۱,۳۷۲ | ٪۱ | ۳,۹۱۵ | ٪۲ | ۳,۴۵۴ | ٪۲ | ۸,۱۶۵ | ٪۵ | ۱,۲۴۹ | ٪۱ |
| تخار | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۰۵۳,۸۵۲ | ۲۰۴,۱۲۹ | ٪۱۶ | ۱۲۶,۷۷۶ | ٪۱۰ | ۱۰۱,۷۴۱ | ٪۱۰ | ۷۷,۳۵۳ | ٪۶ | ۳۸۳,۵۷۶ | ٪۳۶ | ۱۵۸,۰۶۸ | ٪۱۵ |
| جوزجان | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۵۷۹,۸۳۳ | ۳۶۱,۹۶۶ | ٪۳۸ | ۱۶۲,۴۳۰ | ٪۱۷ | ۲۴۱,۰۷۲ | ٪۴۲ | ۱۹۹,۵۳۶ | ٪۲۱ | ۲۰۰,۷۹۷ | ٪۳۵ | ۱۶۶,۱۳۱ | ٪۲۹ |
| خوست | ۲۰۱۸/۰۶/۳۰ | ۶۱۴,۵۸۴ | ۱۴۳,۸۰۵ | ٪۱۹ | ۷۶,۲۸۸ | ٪۱۰ | ۴۴,۷۶۹ | ٪۷ | ۶۷,۵۱۷ | ٪۹ | ۱۶,۰۲۹ | ٪۳ | ۲۴,۶۰۰ | ٪۴ |
| دايکندي | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۴۹۸,۸۴۰ | ۵۳,۸۸۹ | ٪۱۰ | ۴۱,۷۱۹ | ٪۸ | ۵۴,۳۷۵ | ٪۱۱ | ۱۲,۱۷۰ | ٪۲ | ۲۳,۴۶۷ | ٪۵ | ۷۳,۰۶۰ | ٪۱۵ |
| زابل | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۳۷۱,۰۴۳ | ۲۵۸,۷۲۵ | ٪۴۱ | ۱۱۷,۹۹۹ | ٪۱۹ | ۱۶۶,۵۴۸ | ٪۴۵ | ۱۴۰,۷۲۶ | ٪۲۲ | ۱۵۰,۴۰۱ | ٪۴۱ | ۱۱۵,۵۲۶ | ٪۳۱ |
| سرپل | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۵۹۹,۱۳۷ | ۱۲۸,۸۶۲ | ٪۱۸ | ۶۴,۲۴۰ | ٪۹ | ۷۲,۰۲۸ | ٪۱۲ | ۶۴,۶۲۲ | ٪۹ | ۳۸,۶۰۶ | ٪۶ | ۶۶,۵۷۶ | ٪۱۱ |
| سمنګان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۴۱۵,۳۴۳ | ۴۵,۵۱۵ | ٪۱۰ | ۲۵,۱۸۹ | ٪۵ | ۷۳,۸۲۴ | ٪۱۸ | ۲۰,۳۲۶ | ٪۴ | ۲۲,۱۷۵ | ٪۵ | ۲۱,۷۳۶ | ٪۵ |
| غزني | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۳۱۵,۰۴۱ | ۲۰۳,۲۷۹ | ٪۱۳ | ۴۹,۷۷۵ | ٪۳ | ۱۰۳,۳۱۹ | ٪۸ | ۱۵۳,۵۰۴ | ٪۱۰ | ۱۱۰,۳۴۲ | ٪۸ | ۵۳,۱۲۶ | ٪۴ |
| غور | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۷۳۸,۲۲۴ | ۸۹,۲۸۳ | ٪۱۱ | ۳۶,۳۳۳ | ٪۴ | ۶۸,۱۸۸ | ٪۹ | ۵۲,۹۵۰ | ٪۶ | ۳۹,۶۹۸ | ٪۵ | ۴۱,۲۸۵ | ٪۶ |
| فارياب | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۰۶۹,۵۴۰ | ۲۹۱,۴۲۷ | ٪۲۱ | ۲۲۸,۲۶۲ | ٪۱۷ | ۲۳۳,۹۲۱ | ٪۲۲ | ۶۳,۱۶۵ | ٪۵ | ۸۸,۸۹۳ | ٪۸ | ۲۹۷,۰۵۶ | ٪۲۸ |
| فراه | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۵۴۳,۲۳۷ | ۱۹۰,۵۶۲ | ٪۲۶ | ۷۲,۲۴۵ | ٪۱۰ | ۲۴۶,۶۶۷ | ٪۴۵ | ۱۱۸,۳۱۷ | ٪۱۶ | ۱۲۴,۷۹۸ | ٪۲۳ | ۹۰,۴۷۳ | ٪۱۷ |
| کابل | ۲۰۱۹/۱۲/۳۱ | ۴,۸۶۰,۸۸۰ | ۴۸۷,۰۷۲ | ٪۹ | ۲۳۵,۳۱۹ | ٪۴ | ۷۴,۸۳۳ | ٪۲ | ۲۵۱,۷۵۳ | ٪۵ | ۵۹,۱۴۱ | ٪۱ | ۷۶,۸۹۳ | ٪۲ |
| کاپيسا | ۲۰۱۹/۱۲/۳۱ | ۴۷۱,۵۷۴ | ۴۰,۵۶۱ | ٪۸ | ۲۳,۲۹۴ | ٪۵ | ۳۳,۳۶۴ | ٪۷ | ۱۷,۲۶۷ | ٪۳ | ۱۵,۲۶۸ | ٪۳ | ۳۴,۵۰۶ | ٪۷ |
| کندز | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۰۹۱,۱۱۶ | ۲۷۷,۷۲۴ | ٪۲۰ | ۱۸۹,۳۱۹ | ٪۱۴ | ۱۵۷,۵۵۰ | ٪۱۴ | ۸۸,۴۰۵ | ٪۶ | ۱,۲۱۹,۰۹۳ | ٪۱۱۲ | ۱۵۰,۴۹۸ | ٪۱۴ |
| کندهار | ۲۰۱۹/۱۲/۳۱ | ۱,۳۳۷,۱۸۳ | ۳۳۰,۲۸۳ | ٪۲۰ | ۹۰,۹۴۲ | ٪۵ | ۲۹۲,۱۰۶ | ٪۲۲ | ۲۳۹,۳۴۱ | ٪۱۴ | ۱۱۶,۰۴۹ | ٪۹ | ۲۶,۳۳۵ | ٪۲ |
| کنړ | ۲۰۱۹/۱۲/۳۱ | ۴۸۲,۱۱۵ | ۲۳۰,۵۷۰ | ٪۳۲ | ۱۱۰,۱۲۰ | ٪۱۵ | ۱۳۵,۸۶۵ | ٪۲۸ | ۱۲۰,۴۵۰ | ٪۱۷ | ۵۰,۵۹۹ | ٪۱۰ | ۱۳,۹۳۵ | ٪۳ |
| لغمان | ۲۰۱۹/۱۲/۳۱ | ۴۷۶,۵۳۷ | ۱۵۸,۲۳۷ | ٪۲۵ | ۱۱۱,۱۲۲ | ٪۱۸ | ۱۰۳,۲۱۰ | ٪۲۲ | ۴۷,۱۱۵ | ٪۷ | ۱۵,۱۳۴ | ٪۳ | ۳۱,۹۳۰ | ٪۷ |
| لوګر | ۲۰۱۷/۱۲/۳۱ | ۴۱۹,۳۷۷ | ۱۴۶,۵۴۴ | ٪۲۶ | ۱۰۵,۵۰۲ | ٪۱۹ | ۱۱۲,۲۸۵ | ٪۲۷ | ۴۱,۰۴۲ | ٪۷ | ۱۳,۴۳۳ | ٪۳ | ۴۳,۰۳۷ | ٪۱۰ |
| ننګرهار | ۲۰۱۹/۱۲/۳۱ | ۱,۶۳۵,۸۷۲ | ۸۰۴,۳۹۸ | ٪۳۳ | ۵۱۳,۴۳۶ | ٪۲۱ | ۳۴۷,۴۸۴ | ٪۲۱ | ۲۹۰,۹۶۲ | ٪۱۲ | ۳۹۸,۰۱۶ | ٪۲۴ | ۴۴,۱۸۷ | ٪۳ |
| نورستان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۱۵۸,۲۱۱ | ۶,۴۸۹ | ٪۴ | ۵۷۴ | ٪۰ | ۱۱,۰۲۲ | ٪۷ | ۵,۹۱۵ | ٪۴ | ۲۳۱ | ٪۰ | ۵۳ | ٪۰ |
| نيمروز | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱۷۶,۸۹۸ | ۱۱۷,۱۲۶ | ٪۴۰ | ۴۱,۵۳۱ | ٪۱۴ | ۱۴,۸۵۷ | ٪۸ | ۷۵,۵۹۵ | ٪۲۶ | ۱۹,۳۶۳ | ٪۱۱ | ۲۶,۴۶۳ | ٪۱۵ |
| هرات | ۲۰۱۹/۱۲/۳۱ | ۲,۰۵۰,۵۱۴ | ۱,۰۶۵,۴۸۸ | ٪۳۴ | ۱۶۲,۸۶۱ | ٪۵ | ۲۲۷,۶۶۴ | ٪۱۱ | ۹۰۲,۶۲۷ | ٪۲۹ | ۹۸,۳۰۲ | ٪۵ | ۱۸۸,۱۶۵ | ٪۹ |
| هلمند | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۳۹۵,۵۱۴ | ۵۰۴,۲۲۴ | ٪۲۷ | ۹۸,۰۸۹ | ٪۵ | ۳۵۶,۰۲۵ | ٪۲۶ | ۴۰۶,۱۳۵ | ٪۲۱ | ۵۹۶,۱۴۰ | ٪۴۳ | ۶۰,۰۱۵ | ٪۴ |
| وردک | ۲۰۱۸/۱۲/۳۱ | ۶۳۷,۶۳۴ | ۱۳۹,۲۲۲ | ٪۱۸ | ۹۷,۴۳۸ | ٪۱۳ | ۲۶۹,۶۱۳ | ٪۴۲ | ۴۱,۷۸۴ | ٪۵ | ۴۱,۵۹۷ | ٪۷ | ۸۶,۳۱۶ | ٪۱۴ |
| مجموعه | | ۳۰,۰۷۵,۰۱۸ | ۷,۸۰۲,۴۱۰ | ٪۲۱ | ۳,۴۵۱,۵۱۰ | ٪۹ | ۴,۵۶۱,۲۲۴ | ٪۱۵ | ۴,۳۵۰,۹۰۰ | ٪۱۱ | ۴,۷۵۳,۷۱۷ | ٪۱۶ | ۲,۵۳۱,۰۱۱ | ٪۸ |

** د نفوسو معلوماتي سرچينه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري (NSIA) اټکل   سيمبولوجي: د موخې وړ جمعيت ≤ ۲۰۰,۰۰۰   د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪



په داسې حال کې چې ۱،۰۰۶،۵۴۱ ماشومان په خپلو ټولنو کې ښوونځيو ته لاسرسی نلري ځينې ماشومان د ټولنې پر بنسټ تعليماتو (سي-بي-اي ټولګي) له برکته لومړنۍ زدکړې په خپله ټولنه کې ترلاسه کوي لکه دا زده کوونکي چې په بلخ ولايت کې د سي-بي-اي ټولګي تر څنګ د پړي کشولو لوبه ترسره کوي. © IOM ۲۰۱۹

## تکلار

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دي DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړې د سیمه ایزو کاروونکو په توګه په کار ګماري. دا کاروونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کاروونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کاروونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړ شوي فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري تر کتنې او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې دی ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کاروونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه برخې لري راټولوي:

١. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې ړو جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

٢. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې ړو جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلي د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.



شخینه کاروونکي په ډله ایزو مرکو کې د ښځینه وو کډوالو د شمېر زیاتوالي لپاره ډېري کتوري دي او په دې توګه د ځو سکتورېزو اړتیاوو ارزونه د جنډر متوازن لید په پام کې نیول کېږي. © IOM ۲۰۱۹

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کاروونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کاروونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د ځو سکتوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کاروونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کاروونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جنډر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له جملې څخه یوازې ۴٪ یې ښځې دي. که څه هم دا لږ ده خو بیا هم د DTM د لومړي پړاو ارزونې په پرتله پرمختګ شوی چې د ۲۰۱۷ کال په مارچ کې بشپړ شوې وه او ۰.۱٪ ښځو ترې استازیتوب کاوه.

**۶۲،۲۱۴**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۶،۱۳۷**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنېدونکي دي او یا هم کوم ې بېځایه شوي (۱۰٪)

**۲،۶۲۴**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۴٪)

**۱۷،۳۰۱**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۸٪)


**۵۹،۵۹۰**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۶٪)

**۱۲،۷۱۶**
څوسکتوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۰٪)

**۵،۳**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۲۱،۳۵۶**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۴٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | عمومی



# بېرنيو هېوادونو ځخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بېرنيو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو مياشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شويو سيمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کورنۍ هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بيا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته يې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړي وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او يا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

د راستنېدونکو شمېر له ۲۰۱۶ کال ځخه را په دې خوا د هر کال په ترڅ کې په لوړه کچه راټيټ شوی خو اروپايي هېوادونو ځخه د راستنېدو کچه ډېره لږه زياته شوې. ننګرهار ولايت په ملي کچه له ۱۵٪ راستنېدونکو ځخه کوربه توب کوي. د DTM کليدي معلومات ورکوونکو د پاکستان او ايران ځخه د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو په اړه چې تر تولو زيات راستنېدونکي يې درلودل په دقيقه توګه اټکل کړي دي چې د UNHCR او کډوالو او راستنېدونکو رياست اټکل شوي شمېر په پرتله په ترتيب ۲٪ او ۴٪ توپير ښيي. که څه هم کليدي معلومات ورکوونکو د راستنېدونکو شمېر (هغه کسان چې په خپله خوښه له ايران ځخه د تحريمونو له امله چې اقتصادي رکود يې پايله وه راستانه شوي) د ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کال لپاره ټيټ ښودلی دا ځکه چې ډېری وخت د تولنو وګړي داسې انګېري چې راستنېدونکي کارګر کډوال دي نه دا چې جبري راستنېدونکي دي.

**۳،۴۵۱،۵۱۰**
بېرنيو هېوادونو ځخه راستنېدونکي

**۱،۹۷۴،۳۷۹**
پاکستان ځخه راستنېدونکي (۵۷٪)


**۲،۰۵۰،۲۷۰**
له ايران + پاکستان ځخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۵۹٪)

**۱،۲۷۹،۳۱۱**
ايران ځخه راستنېدونکي (۳۷٪)


**۱،۲۰۳،۴۲۰**
له ايران + پاکستان ځخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۳۵٪)

**۱۹۷،۸۲۰**
غير ګاونډيو هېوادونو ځخه راستنېدونکي (۶٪)


بېرنيو هېوادونو ځخه راستنېدونکي | عمومي | هېواد/ اصلي سيمه





بېرنيو هېوادونو ځخه راستنېدونکي | عمومي | کلنی بهير





اروپا او ترکيه ځخه راستنېدونکي | کلنی بهير





پاکستان او ايران ځخه راستنېدونکي | کلنی بهير




پاکستان او ايران ځخه راستنېدونکي | د UNHCR او د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د شمېر پر وړاندې د DTM تخميني شمېر




د ولايت پر بنسټ بېرنيو هېوادونو ځخه راستنېدونکي | کلنی بهير




*سرچینه: د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو کمېشنري (UNHCR)، https://data2.unhcr.org/en/country/afg
**سرچینه: د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت (MoRR)، سرحدونو ځخه د نظارت ټيم

# رارسېدلي کورني بېځايه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ يا وسله والو جګړو له امله يا تاوتريخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب اندېښنې او د طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړې شويو پېښو څخه د خونديتوب په موخه خپلو سيمو څخه بېځايه شوي دي او ارزول شوېو/ کوربه ټولنو ته تللي او ژوند کوي.

زمونږ د کليدي معلومات ورکوونکو په وينا، له ۲۰۱۶ تر ۲۰۱۸ کلونو پورې د هر کال په ترڅ کې له ۱ ميليون څخه زيات افغانان د جګړو او طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي دي. که څه هم د ۲۰۱۸ کال په ترڅ کې د سختو جګړو له امله د ملکي وګړو په شمېر کې ۴۶٪ زياتوالی راغلی، د کورني بېځايه شويو ټولټال شمير د ۲۰۱۷ کال په پرتله په ۲۰۱۸ کال کې ډېر لږ زياتوالی راغلی خو په ۲۰۱۹ کال کې ۳۹٪ کموالی شيي. هرات ولايت تر ټولو ډېر زيانمن دی ځکه چې د هېواد په کچه له ۲۱٪ کورني بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي.

**۴،۳۵۰،۹۰۰**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځايه شوي

**۳,۱۷۳,۷۲۵**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي (۷۳٪)


**۹۰۲،۶۲۷**
په هرات ولايت کې کورني بېځايه شوي کسان چې دا تر ټولو زيات شمېر دی

**۱,۱۷۷,۱۷۵**
د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي (۲۷٪)


**۲۹۲،۸۹۲**
کورني بېځايه شوی په غير رسمي سيمو کې مېشت دی (۷٪)

**۳ څخه ۲**
په خپل اصلي ولايت کې بېځايه شوي (۶۵٪)


رارسېدلي کورني بېځايه شوي کسان | کلنی بهير





د اصلي ولايت پر بنسټ رارسېدلي کورني بېځايه شوي کسان | عمومي





د ولايت پر بنسټ رارسېدلي کورني بېځايه شوي کسان | کلنی بهير





د ولايت پر بنسټ غير رسمي سيمو کې مېشت رارسېدلي کورني بېځايه شوي کسان




رارسېدلي کورني بېځايه شوي کسان | پناه ځای | عمومي



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي کورني بېځایه شوي)




پـه لانـدې جـدول کـې ۲۵ ولسـوالۍ ښـودل شـوي چې تـر ټولـو زیـات راسـتنېدونکي او کورني بېځایـه شـوي (ټولټـال راغلي کسـان) لري. دا سـیمې د ټولنـې د بې ثباتۍ پـه برابر کې اغیزمنې او حساسـې دي چـې د راسـتنیدونکو او کورني بېځایه شـویو لـوړې کچې راتـګ سره دا بې ثباتي رامنـځ تـه شـوي. لـه دې امله اسـاسي خدمتونو او معیشـت ته لاسرسـی محدود شـوی، ځای پر ځـای کېـدل د خطـر سره مـخ کېـږي او د بیاځلـې بېځایـه کېدنې لامل ګرځـي. هـرات ولایت د هیـواد پـه کچـه تـر ټولـو زیاتـو کـورني بېځایه شـویو ځخـه کوربه تـوب کوي چـې د جګـړو او طبیعـي پېښـو لـه املـه بېځایـه شـوي (۹۰۲،۶۲۷). لـه دې شـمېر ځخـه ۶۱٪ کسـان د جګړو له املـه بېځایـه شـوي او ۳۹٪ د طبیعـي پېښـو لـه امله بېځایه شـوي د هرات ولایت دننـه تر ټولو زیات کورني بېځایه شـوي (۲۹۷،۹۸۸) په خپله هرات ولسـوالۍ کې اوسـېږي. ننګرهار ولایت تر ټولو زیات راسـتنېدونکو ځخه کوربه توب کوي چې ډېری یې (۱۲۵،۲۳۴) په بهسـود ولسـوالۍ کې اوسـېږي.

## ۲۵ لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي + داخلی بېځایه شوي لري

| رده بندی | ولسوالۍ | ولایت | راستنېدونکي | کورني بېځایه شوي | ټولټال وارد شوي |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | هرات | هرات | ۹۶,۶۳۲ | ۲۹۷,۹۸۸ | ۳۹۴,۶۲۰ |
| ۲ | لشکرګاه | هلمند | ۲۲,۷۵۰ | ۲۳۸,۶۲۱ | ۲۶۱,۳۷۱ |
| ۳ | قلعه نو | بادغیس | ۲۶,۰۷۲ | ۲۲۸,۲۳۵ | ۲۵۴,۳۰۷ |
| ۴ | بهسود | ننګرهار | ۱۲۵,۲۳۴ | ۸۷,۵۷۰ | ۲۱۲,۸۰۴ |
| ۵ | کابل | کابل | ۸۲,۳۷۸ | ۱۲۵,۶۰۴ | ۲۰۷,۹۸۲ |
| ۶ | شبر غان | جوزجان | ۶۹,۱۹۵ | ۱۳۵,۸۹۶ | ۲۰۵,۰۹۱ |
| ۷ | کرخ | هرات | ۶,۸۳۸ | ۱۲۶,۲۴۷ | ۱۳۳,۰۸۵ |
| ۸ | قلات | زابل | ۳۱,۶۹۷ | ۹۵,۶۴۸ | ۱۲۷,۳۴۵ |
| ۹ | غزني | غزني | ۹,۳۶۲ | ۱۱۷,۲۶۹ | ۱۲۶,۶۳۱ |
| ۱۰ | کندهار | کندهار | ۳۰,۴۵۹ | ۹۵,۷۵۲ | ۱۲۶,۲۱۱ |
| ۱۱ | ګذره | هرات | ۵,۹۳۴ | ۱۰۱,۸۳۲ | ۱۰۷,۷۶۶ |
| ۱۲ | دهدادی | بلخ | ۷,۲۱۷ | ۹۶,۶۶۰ | ۱۰۳,۸۷۷ |
| ۱۳ | مزار شریف | بلخ | ۲۰,۵۳۷ | ۷۶,۹۳۲ | ۹۷,۴۶۹ |
| ۱۴ | سرخرود | ننګرهار | ۵۰,۳۷۶ | ۳۷,۹۴۷ | ۸۸,۳۲۳ |
| ۱۵ | سرپل | سرپل | ۳۶,۰۴۵ | ۵۱,۸۳۷ | ۸۷,۸۸۲ |
| ۱۶ | انجیل | هرات | ۵,۷۷۹ | ۷۲,۰۲۹ | ۷۷,۸۰۸ |
| ۱۷ | زرنج | نیمروز | ۲۶,۷۶۰ | ۵۰,۸۰۷ | ۷۷,۵۶۷ |
| ۱۸ | جلال آباد | ننګرهار | ۴۷,۸۷۴ | ۲۶,۶۷۸ | ۷۴,۵۵۲ |
| ۱۹ | چپرهار | ننګرهار | ۵۲,۸۷۲ | ۱۹,۶۵۴ | ۷۲,۵۲۶ |
| ۲۰ | نهر شاهي | بلخ | ۱۶,۰۷۴ | ۵۵,۶۴۰ | ۷۱,۷۱۴ |
| ۲۱ | شیرین تګاب | فاریاب | ۶۴,۸۵۱ | ۱,۸۸۳ | ۶۶,۷۳۴ |
| ۲۲ | پل علم | لوګر | ۴۴,۶۶۰ | ۲۱,۸۹۵ | ۶۶,۵۵۵ |
| ۲۳ | فراه | فراه | ۱۴,۴۴۴ | ۵۲,۰۸۱ | ۶۶,۵۲۵ |
| ۲۴ | کندز | کندز | ۴۱,۲۴۱ | ۲۴,۴۲۹ | ۶۵,۶۷۰ |
| ۲۵ | پشتون زرغون | هرات | ۶۶۵ | ۶۲,۱۸۲ | ۶۲,۸۴۷ |
| | | مجموعه | ۹۳۵,۹۴۶ | ۲,۳۰۱,۳۱۶ | ۳,۲۳۷,۲۶۲ |

## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولایت پر بنسټ لنډیز

| ولایت | راستنېدونکي | کورني بېځایه شوي | ټولټال وارد شوي کسان |
|---|---|---|---|
| هرات | ۱۶۲,۸۶۱ | ۹۰۲,۶۲۷ | ۱,۰۶۵,۴۸۸ |
| ننګرهار | ۵۱۳,۴۳۶ | ۲۹۰,۹۶۲ | ۸۰۴,۳۹۸ |
| هلمند | ۹۸,۰۸۹ | ۴۰۶,۱۳۵ | ۵۰۴,۲۲۴ |
| کابل | ۲۳۵,۳۱۹ | ۲۵۱,۷۵۳ | ۴۸۷,۰۷۲ |
| بلخ | ۱۵۶,۶۳۴ | ۲۶۷,۹۷۹ | ۴۲۴,۶۱۳ |
| بادغیس | ۹۸,۳۲۶ | ۲۸۹,۸۸۷ | ۳۸۸,۲۱۳ |
| جوزجان | ۱۶۲,۴۳۰ | ۱۹۹,۵۳۶ | ۳۶۱,۹۶۶ |
| کندهار | ۹۰,۹۴۲ | ۲۳۹,۳۴۱ | ۳۳۰,۲۸۳ |
| فاریاب | ۲۲۸,۲۶۲ | ۶۳,۱۶۵ | ۲۹۱,۴۲۷ |
| کندز | ۱۸۹,۳۱۹ | ۸۸,۴۰۵ | ۲۷۷,۷۲۴ |
| زابل | ۱۱۷,۹۹۹ | ۱۴۰,۷۲۶ | ۲۵۸,۷۲۵ |
| کنړ | ۱۱۰,۱۲۰ | ۱۲۰,۴۵۰ | ۲۳۰,۵۷۰ |
| تخار | ۱۲۶,۷۷۶ | ۷۷,۳۵۳ | ۲۰۴,۱۲۹ |
| غزني | ۴۹,۷۷۵ | ۱۵۳,۵۰۴ | ۲۰۳,۲۷۹ |
| بغلان | ۱۴۴,۷۷۱ | ۴۵,۸۰۶ | ۱۹۰,۵۷۷ |
| فراه | ۷۲,۲۴۵ | ۱۱۸,۳۱۷ | ۱۹۰,۵۶۲ |
| لغمان | ۱۱۱,۱۲۲ | ۴۷,۱۱۵ | ۱۵۸,۲۳۷ |
| لوګر | ۱۰۵,۵۰۲ | ۴۱,۰۴۲ | ۱۴۶,۵۴۴ |
| خوست | ۷۶,۲۸۸ | ۶۷,۵۱۷ | ۱۴۳,۸۰۵ |
| وردک | ۹۷,۴۳۸ | ۴۱,۷۸۴ | ۱۳۹,۲۲۲ |
| سرپل | ۶۴,۲۴۰ | ۶۴,۶۲۲ | ۱۲۸,۸۶۲ |
| نیمروز | ۴۱,۵۳۱ | ۷۵,۵۹۵ | ۱۱۷,۱۲۶ |
| بدخشان | ۵۶,۵۴۴ | ۴۴,۵۴۰ | ۱۰۱,۰۸۴ |
| پکتیا | ۶۹,۵۶۵ | ۲۳,۱۴۳ | ۹۲,۷۰۸ |
| غور | ۳۶,۳۳۳ | ۵۲,۹۵۰ | ۸۹,۲۸۳ |
| پکتیکا | ۴۳,۵۸۸ | ۳۹,۹۵۰ | ۸۳,۵۳۸ |
| اورزګان | ۸۹۹ | ۸۱,۳۱۶ | ۸۲,۲۱۵ |
| پروان | ۶۰,۴۶۴ | ۱۷,۲۰۷ | ۷۷,۶۷۱ |
| بامیان | ۳۸,۵۴۴ | ۳۹,۰۴۱ | ۷۷,۵۸۵ |
| دایکندی | ۴۱,۷۱۹ | ۱۲,۱۷۰ | ۵۳,۸۸۹ |
| سمنګان | ۲۵,۱۸۹ | ۲۰,۳۲۶ | ۴۵,۵۱۵ |
| کاپیسا | ۲۳,۲۹۴ | ۱۷,۲۶۷ | ۴۰,۵۶۱ |
| نورستان | ۵۷۴ | ۵,۹۱۵ | ۶,۴۸۹ |
| پنجشیر | ۱,۳۷۲ | ۳,۴۵۴ | ۴,۸۲۶ |
| مجموعه | ۳,۴۵۱,۵۱۰ | ۴,۳۵۰,۹۰۰ | ۷,۸۰۲,۴۱۰ |

## کورني بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې يې پرېښې


دا هغه افغانان دي چې له يوې ارزول شوې سيمې څخه چې هلته يې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه يوې بلې سيمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو څخه خوندي ووسي.


**۴،۵۶۱،۲۲۴** کورني بېځایه شوي چې خپلې سیمې يې پرېښې

**۳ څخه ۲** په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي (۶۷٪)

**۳،۰۹۳،۰۹۷** د کړکیچ له امله بېځایه شوي (۶۸٪)

**۱،۴۶۸،۱۲۷** د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي (۳۲٪)




## راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان


راستانه شوي کورني بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوي سیمې دي او پخوا يې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمې څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۴،۷۵۳،۷۱۷** راستانه شوي کورني بېځایه شوي

**۸۶٪ څخه زیات** کورني بېځایه شوي له لوګر، لغمان او وردګ ولایتونو څخه خپلو اصلي سیمو ته نه دي ستانه شوي

**۵ څخه ۴** د عین ولایت له نورو سیمو څخه راستانه شوي (۸۳٪)

**۴ څخه ۱** ۲۶٪ راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان کندز ولایت ته تللي



# بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له يوې ارزول شوې سيمې څخه د هر دليل، عامل او يا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او يا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځايه شوي، کډوال او هغه کسان شامليږي چې افغانستان يې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښې وي.

د ۲۰۱۵ کال راهيسې د کډوالو شمير په دوامداره توګه راټيټ شوی چې ښايي اروپايي هېوادونو څخه د راستنېدلو، د اقتصادی فرصتونو کموالی او په ايران او پاکستان کې د خونديتوب کموالی يې لاملونه وي. د کليدي معلوماتو ورکوونکو په وينا د ۲۰۱۲ کال راهيسې ۲۹۷،۰۵۶ افغانان له فارياب ولايت څخه بهرنيو هېوادونو ته تللي دي چې په ډېر احتمال سره دا کار د اوږد مهاله جګړې له امله شوی چې د پرمختګ مخه يې نيولې او د معيشت له لاسه ورکولو او د فقر لامل ګرځېدلی.


**۲,۵۳۱,۰۱۱**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۳۳۲,۲۵۳**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۱۳٪)


**۱,۵۷۴,۹۱۷**
ايران ته تللي دي (۶۲٪)

**۵۴۲,۳۰۰**
پاکستان ته تللي دي (۲۱٪)


بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهير





ترکيه او اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهير





ايران ته کډوال شوي کسان | کلنی بهير





پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنی بهير




د ولايت پر بنسټ بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهير




د هېواد پر بنسټ بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سيمه | عمومي



# ځو سکټوریزې اړتیاوې



د افغانستان د ۴۶۰،۷۳۳ کورني بېځایه شویو او راستنېدونکو په ځېر دا کورنۍ هم په سختو شرایطو کې په کابل کې د مزار هډې ته څېرمه یوې غیر رسمي سیمه کې په خیمو کې ژوند کوي. © IOM ۲۰۱۹



۷۷۶،۸۱۶ کورني بېځایه شوي او راستنېدونکي د څښاک خوندي اوبو ته لاسرسی نلري. لکه دا انجونې چې په لغمان ولایت کې دي همدا شان ماشومان د اوبو له نا خوندي سرچینو څخه خپلو کورنیو ته اوبه وړي. © IOM ۲۰۱۹



په بلخ ولایت کې دې ټولنې سولري واټرپمپ نصب کړی ترڅو د یو غیر رسمي استوګنځای لپاره خوندي او پاکې اوبه تمویل کړي. © IOM ۲۰۱۹



کړکېچ او طبیعي آفتونه ډېرۍ وخت روزنیزې ودانۍ ورانوي او ټولنې د ضروري خدماتو د کموالي سره مخ کوي. د کنړ ولایت په خاص کنړ ولسوالۍ کې دا زده کوونکي د دې له امله چې د ښوونځۍ ودانۍ یې د سیلاب له امله ورانه شوې په آزاده فضا کې خپل سبق ته دوام ورکوي.© IOM ۲۰۱۹

## ۵ لومړیتوب لرونکي ولایتونه

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د ځو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لست چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یادښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (کورني بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړني ولایتونه چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او کورني بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | هرات | ۱,۰۶۵,۴۸۸ |
| ۲ | ننګرهار | ۸۰۴,۳۹۸ |
| ۳ | هلمند | ۵۰۴,۲۲۴ |
| ۴ | کابل | ۴۸۷,۰۷۲ |
| ۵ | بلخ | ۴۲۴,۶۱۳ |
| | **عمومي‌مجموعه** | **۳,۲۸۵,۷۹۵** |

### پنځه لومړني ولایتونه چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+کورني بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | هرات | ۱۹۷,۴۸۰ |
| ۲ | بادغیس | ۱۶۱,۹۷۳ |
| ۳ | کندهار | ۱۹,۲۸۴ |
| ۴ | ننګرهار | ۱۳,۳۵۵ |
| ۵ | هلمند | ۱۰,۳۲۳ |
| | **عمومي‌مجموعه** | **۴۰۲,۴۱۵** |

### پنځه لومړني ولایتونه چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | بادغیس | ۱۵۹,۸۶۱ |
| ۲ | جوزجان | ۹۷,۱۷۴ |
| ۳ | فاریاب | ۹۶,۷۶۴ |
| ۴ | بلخ | ۵۳,۶۲۵ |
| ۵ | نیمروز | ۴۲,۴۰۰ |
| | **عمومي‌مجموعه** | **۴۴۹,۸۲۴** |

### پنځه لومړني‌ولایتونه‌چې‌روغتیایي‌ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | هرات | ۳۸۴,۱۳۲ |
| ۲ | بلخ | ۲۲۴,۱۶۷ |
| ۳ | ننګرهار | ۲۱۰,۲۰۹ |
| ۴ | هلمند | ۲۰۶,۳۴۶ |
| ۵ | جوزجان | ۱۷۵,۷۱۰ |
| | **عمومي‌مجموعه** | **۱,۲۰۰,۵۶۴** |


### پنځه لومړني ولایتونه چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | هرات | ۱۷۰,۳۴۶ |
| ۲ | هلمند | ۹۷,۱۱۰ |
| ۳ | کندهار | ۹۵,۸۸۲ |
| ۴ | زابل | ۶۰,۵۹۳ |
| ۵ | فراه | ۵۶,۹۵۵ |
| | **عمومي‌مجموعه** | **۴۸۰,۸۸۶** |

### پنځه لومړني ولایتونه چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | هرات | ۳۴۳,۹۱۲ |
| ۲ | بلخ | ۱۹۵,۳۸۴ |
| ۳ | هلمند | ۱۲۵,۲۳۳ |
| ۴ | کندز | ۱۱۷,۴۰۶ |
| ۵ | جوزجان | ۱۱۰,۹۹۹ |
| | **عمومي‌مجموعه** | **۸۹۲,۹۳۴** |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) | پناه ځای | عمومي



## د يوه بېځايه شوي کيسه

### د حرفه ای زده کړې او زحمت ګاللو ګټې

امين د پاکستان هېواد له راستنېدونکو څخه دی. وروسته له هغه چې پلار يې په پاکستان کې خپله دنده له لاسه ورکړه کورنۍ يې سخت اقتصادي ستونزو سره مخ وه. د امين کورنۍ له همدې امله پرېکړه وکړه چې بېرته افغانستان ته راستانه شي. افغانستان ته د راستنېدو وروسته دوی په کندهار ولايت کې مېشت شول.

امين او د هغه کورنۍ د ۸۴،۷۴۰ وګړو له ډلې څخه دي چې د ۲۰۱۲-۲۰۱۹ کلونو په ترخ کې له بهر څخه کندهار ولايت ته راستانه شوي دي.

کندهار ته د راستنېدو وروسته د امين پلار سخت ناروغ شو او د کورنۍ ملاتړ ته يې دوام نه شو ورکولای. امين هغه مهال په اتم ټولګي کې وو خو د خپلې اوه کسيزې کورنۍ د ملاتړ لپاره دې ته اړ شو چې ښوونځی پرېږدي.

که څه هم امين ښوونځی پرېښوده خو بيا هم د خپلو وړتياو او ژوند ښه کولو لپاره هيله مند وو. هغه د دندې او نوي مهارتونو د زده کړې فرصتونو په لټه کې شو. وروسته له ډېرو هڅو هغه ژر پوه شو چې يوه غير دولتي موسسه د هغوی په ټولنه کې د ماشينونو د ترميم په برخه کې مسلکي روزنه وړاندې کوي نو امين د واټر پمپ جوړوني پروګرام پيل کړ.

د ۳ مياشتني مسلکي روزنې پای ته رسيدو وروسته امين کافي پوهه او مهارتونه ترلاسه کړل ترڅو په ټولنه کې د واټرپمپ جوړولو ورکشاپ پرانيزي. هغه په خپلو هڅو کې خورا بريالی دی. هغه اوس کافي عايد ترلاسه کوي او د خپلې کورنۍ د ملاتړ تر څنګ يې خپلو زده کړو ته هم دوام ورکړی.

د واټرپمپ جوړوني حرفه ای کورسونه کولای شي د ډېريو کورني بېځايه شويو او راستنېدونکو په ژوند کې مثبت بدلون رامنځ ته کړي. سر بېره پر دې دا پروګرامونه په نيازمنو ټولنو کې د څښاک خوندي اوبو ته لاسرسی لا هم ښه کوي. دا ډول ټولنې په کندهار ولايت کې د ۲۱،۸۰۲ کورني بېځايه شويو او راستنېدونکو کوربه دي چې د څښاک خوندي اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري.

* د يادونې وړ ده چې په دې کيسې کې نومونه بدل شوي او د سيمې نوم نده ياد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندۍ ووسي.



امين د تخنيکي وسيلو په مرسته د يو واټرپمپ د جوړولو په حال کې دی. دا مهارت په هغو ټولنو کې چې وګړي د څښاک خوندي اوبو ته لاسرسی نلري ډېر ارزښتناک بلل کېږي.© IOM ۲۰۱۹

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړيوال ملاتړ ټيم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسايل او توکي چې د کار په ترخ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکيت، سيمه او يا هم د هغه د چارواکو او يا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړيوال سازمان له هېڅ نظر يا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړيوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زياتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړيکه کې شئ**

د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټيم سره په اړيکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int


facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan


instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي


د اروپا اتحاديه ګډه بودجه په وسيله تمويل شوی




د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي کورني بېځایه شوي)




بهرنیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې




د راستېدلیو کورني بېځایه شویو کسانو کوربه ولسوالۍ ګانې


د بېځایه کیدونکو د تعقیب سیستم – افغانستان
داخلي بېځایه شوي چې خپلی اصلي سیمې ته پربیښي | عمومي کتنه | دسمبر ۲۰۱۹
Kilometers
0 95 190 380
1 cm = 41 km
1:4,100,000
www.displacement.iom.int/afghanistan | email: dtmafghanistan@iom.int
IOM • OIM
تاجیکستان
ازبکستان
ترکمنستان
چین
جمو و کشمیر
پاکستان
ایران (جمهوری اسلامی)
ننګرهار
لغمان
کنړ
نورستان
پنجشیر
کاپیسا
کابل
پروان
لوګر
وردګ
پکتیا
خوست
پکتیکا
غزني
بدخشان
تخار
کندز
بغلان
بلخ
سمنګان
بامیان
جوزجان
سرپل
فاریاب
بادغیس
هرات
غور
دایکندي
ارزګان
زابل
کندهار
هلمند
نیمروز
فراه
د کورني بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ کاڼې چې پربښي یې دي




بهرنیو هېوادونو ته د کډوال شویو کسانو اصلي ولسوالۍ ګانې


د بېځایه کېدونکو د تعقیب سیستم – افغانستان
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | عمومي کتنه |
دسمبر ۲۰۱۹
Kilometers
0 95 190 380
1 cm = 41 km
1:4,100,000
IOM • OIM
www.displacement.iom.int/afghanistan | email: dtmafghanistan@iom.int
د معلوماتو سرچینې: اوا‌ر‌ام، سي‌ا‌ر‌او، ایمس، اکچو، ای‌اوام
د نقشې د تولید نېټه: ۲۶/۰۳/۲۰۲۰
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان (قریه)
> ۱۰،۰۰۰
۵،۰۰۱ - ۱۰،۰۰۰
۲،۵۰۱ - ۵،۰۰۰
۱،۰۰۱ - ۲،۵۰۰
< ۱،۰۰۰
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان (ولسوالی)
> ۵۰،۰۰۰
۲۵،۰۰۱ - ۵۰،۰۰۰
۱۰،۰۰۱ - ۲۵،۰۰۰
۵،۰۰۱ - ۱۰،۰۰۰
< ۵،۰۰۰
هېوادونه
ولایت
ولسوالی
د لاسرسي ور نه دي
تاجیکستان
چین
اوزبکستان
ترکمنستان
جمو و کشمیر
پاکستان
ایران(جمهوری اسلامی)
جوزجان
بلخ
کندز
تخار
بدخشان
فاریاب
سمنگان
بغلان
سرپل
بادغیس
نورستان
پنجشېر
پروان
کاپیسا
کنړ
لغمان
کابل
بامیان
هرات
غور
وردک
ننګرهار
لوګر
دایکندی
پکتیا
خوست
غزني
اورزګان
پکتیکا
فراه
زابل
کندهار
هلمند
نیمروز
د پخوانیو کورني بېځایه شویو د راستنېدو ولسوالۍ کانې